# پښتو غږونه او کلمو کې يې موقعيت

**(The Pashto sounds & position in words)**

نور الله ښاد*

**Abstract :**

In many Pashto grammars, it is written that there are four types of sounds in this language: vowels, consonants, semi vowels and diphthongs. If we think deeply, there are two types of sounds in Pashto language vowels and consonants. Semi vowels and diphthongs are studied in Pashto due to following the grammar of other languages. Consonants of Pashto language can be used in all three initial, middle and final positions of the words except ڼ which is only used in the middle and final position. Vowels can never be used in initial position, w and y sounds which we observe in initial position of the Pashto words are consonants sounds. Similarly, الف sound which is also used in initial position is actually ء consonant of Pashto language, it is neither الف nor any other vowel sound.

**Key words**: Pashto language, phonology, consonant, vowel, semi vowel, diphthongs

**غږونه**:

اکثرو پښتو ګرامرونو کې پښتو غږونه څلور ډوله دي؛ واول، کانسوننټ، سيمي واول او ديفتانګونه يا غبرګغږونه.

واول هغو غږونو ته وايي چې د تلفظ پر مهال يې غړيز غړي نه په تماس کې کېږي، د خولې له خاليګا راوځي او څپه جوړوي. کانسوننټ بيا هغه غږونه دي چې د تلفظ پر مهال يې غړيز غړي په تماس کې کېږي، څرګند مخرج لري او په يوازې سر څپه نه شي جوړولی. سيمي واول هغه غږونه دي چې کله کانسوننټ وي او کله واول؛ په دې مانا چې که د څپې هسته شو نو واول دی او که څپه يې جوړه نه کړه کانسوننټ ګڼلی کېږي. څلورمه ډله غبرګغږونه دي چې له يو واول او بل سيمي واول نه رغېدلي وي.

د پښتو غږونو دا وېش د تامل وړ دی او د دوی د تعريفونو له مخې ټکر رامنځته کوي، خصوصا سيمي واول او غبرګغږونه داسې غږونه دي چې منل يې منطقي نه ښکاري؛ موږ وايو سيمي واول چې څپه جوړه کړي نو واول دي او که جوړه يې نه کړه نو کانسوننټ ورته وايي. حال دا چې هېڅ پښتو کلمه نه پيدا کېږي چې دوی د څپې زړي وي يا په بله وينا څپه يې جوړه کړې وي. غبرګغږونه دوه غږونه وي چې لومړی غږ يې واول او دويم هغه يې کانسوننټ وي. موږ وايو چې فونيم نه تجزيه

---

*PhD Scholar, University of Kabul,Afghanistan

کېدونکی ژبنی عنصر دي، په یوازې ځان مانا نه لري خو مانیزو کلمو کې مانیز توپیر پېښوي. لکه د کور «ک» چې پر «م» واوړي نو له کوره مور جوړېږي او «ک و م» په یوازې ځان مانا نه لري. که غبرګغږونو ته وګورو نو د فونیم د تعریف خلاف تجزیه کېږي؛ لکه د سرې په کلمه کې روستی «ی/ ay» غبرګغږ چې تر تجزیې روسته ترې «a» او «y» جوړېږي. چې وویشل شو نو د فونیم د تعریف دا برخه چې (نه تجزیه کېدونکی) دی تر پوښتنې لاندې راولي.

په دې اړه د عبدالحکیم هلالي نظر داسې دی:

"د پښتو ژبې فونیمونه، نه درې ډوله دي او نه هم څلور ډوله. د پښتو ژبې په ږغیز سیستم کې یوازې دوه ډوله فونیمونه لیدل کېږي: واولونه او کانسونېنټونه. کومو فونیمونو /w/ او /y/ ته، چې واول وزمه ویل سوي دي، هغه هم کانسونېنټونه دي، نه واول وزمه." (1)

ګومان کوم مونږ له نورو ژبو په تقلید سره پښتو کې د غږونو ویش پیچلی کړی، که په مجرد ډول پښتو غږونه وڅېړو نو د هلالي صیب نظر د تایید دی چې پښتو یوازې او یوازې واول او کانسونېنټ غږونه لري. ځکه هېڅ سیمې واول څپه نه جوړوي، چې نه یې جوړوي نو سمه او لنډه خبره دا ده چې ووایو پښتو سیمي واول نه لري او دغه نیمه واول چې ورته وایو اصل کې کانسونېنټ غږونه دي. عربي کې زمونږ سیمې واول «ی او و» ته بې مده واو او بې مده یا ویل کېږي او واولونو «ا ، و او ی» ته مد لرونکي وایي. دغه مد لرل او نه لرل دوی پر کاسونېنټ او واول وېشي او بله دا چې دا دواړه سیمې واول غږونه مشخص وتوځي (مخارج) لري، کله یې چې مخرجونه ولرل نو واول نه شول ځکه واول بېمخرجه دي او د خولې تشه کې ادا کېږي.

عربي کې دغه د پښتو سیمې واول «ی» له ج او ش سره مشترک مخرج لري:

"د (ج، ش، ي) مخرج: کله چې د ژبې منځنۍ برخه د پاس تالو سره ولګېږي نو د (ج، ش، ي) توري تلفظ کېږي او دلته د (ي) له حرف څخه غیرمدي (ي) مطلب ده." (2)

پښتو کې هم دغه نیمواک مخرج لري:

"ی /y/ : نیمواک اواز، زیږ تالوییز دی او د «ی» خپلواکه ناڅپیزه یا بېواکې بڼه ده." (3)

"د «ی /y/» تر څنګ «و/w» هم همدا ډول مخرجي دی، عربي کې شونډې د یو مخرج په توګه د «ب، ف، م او و» وتوځی دی: « په شونډو کې دوه مخرجونه دي: د «ف» مخرج او د «ب، م م» مخرج چې څلورتوري په لاندې ډول ورڅخه ادا کېږي: ... کله چې شونډې د ګل د غوټۍ په څېر راغونډې شي او سره ونه لګول شي بې مده «و» ادا کېږي." (4)

پښتو کې هم دغه غږ مخرجي دی، شونډې یې د تولید ځای دی:

"و /w/ : خپلواک اواز غبرګشونډېز او د «و» ناڅپیزه (غیر هجایي) ، یا په بله وینا بېواکې بڼه ده."(5)

عربي او پښتو دواړو قاعدو کې دا دواړه غږونه مخرج لري، چې لري يې نو پر خپلواکۍ او نيمواکۍ يې بحث ته اړتيا نه پاتېږي، پکار ده بېواک يې وشمېرو.

استاد محمود مرهون وايي:

"د ځای په کلمه کي (ی) د څپې مرکز ګرځېدلی دئ نو ځکه دلته د (ی) نيمواک په خپلواک بدل سوی دئ."(6)

د پښتو ګرامر د مطالعې لړ کې مې يوازې دا مثال پيدا کړ چې «ی» واول بلل شوې ده. که همدغه بېلګه وځيرو «ی» واول نه ده، ځکه دې کلمه کې تر«ی» د مخه الف راغلی او الف په اتفاق سره واول دی، که دلته څپه «ی» جوړه کړې نو د الف څپه څه شوه؟ ځکه پښتو کلمو کې چې واول راغلی وي نو څپه به حتمي جوړوي. که دلته يوه څپه الف جوړه کړي او بله «ی» نو پکار ده چې«ځای» کلمه دوې څپې وي، خو داسې نه ده، کلمه يوه څپه ده.

ژبني منطق دا وايي چې پښتو کې له سيمې واول انکاري شو، کانسونېنټ يې وبولو او نور نو دا کشاله پای ته ورسوو.

که همداسې مو وکړل نو غبرګغږونه خپله له منځه ځي، ځکه موږ د نورو ژبو په تقليدپه زور جوړ کړي. له واول او سيمې واول رغېدلي يې بولو، کله چې سيمې واول نه وي نو دوی جوړېدلی نه شي. څه مجبوريت يا اړتيا هم نشته چې پښتو کې د غبرګغږ د زباد هڅه وکړو.

**موقعيت**:

نه ټول پښتو واول او نه هم ټول کانسونېټ د کلمې هره برخه پيل، منځ او پای کې راځي؛ ځينې غږونه دي چې د کلمو درې واړو برخو کې راځي، خو ځينې يې بيا د کلمو سر کې نه راځي، خو منځ او پای کې راتلی شي. کانسونېټ غږونه د کلمې درې واړو برخو کې راځي، يوازې «ڼ» دی چې د کلمې سر کې نه شي راتلی. خو واولونو کې بيا هېڅ غږ د کلمې سر کې نه راځي.

د کلمو سر کې په ليکلې بڼه «ا ، و او ي» وينو ممکن څوک ووايي همدا واول دي کنه چې سر کې راغلي، که لږ دقيق يې وځېړو د کلمو سر کې له دوی يو هم واول نه دی.

لومړی پر «ا» الف خبره کوو، د «اور او ايره» کلمو کې ليدونکي الفونه، الفونه نه دي، که د الف پر ځای يې زوروڼه بولو هم نه دي، ځکه «اور» کلمه يوه څپه ده او د واول په اړه منل شوې خبره دا ده چې کلمه کې راشي نو ارومرو به څپه جوړوي. که دلته الف واول وي نو تر څنګ يې اوږد واو هم راغلی چې واول دی. پکار وه چې دغو دواړو غږونو دوې څپې کلمه جوړه کړې وه خو داسې نه ده، کلمه يوه څپه ده. «ايره» بيا دوې څپې کلمه ده خو کلمه کې د شکل له مخې درې واولونه ليدل کېږي (الف، لنډه ي او زور) که دا درې سره واولونه وي نو ايره بايد درې څپې وي خو دوې څپې ده.

دویم «و» واو دی، ډېرې کلمې دي چې سر کې یې واو وینو خو واول نه وي. د بېلګې په ډول «ولونه» کلمه رااخلو، دې کلمه کې ظاهرا درې واولونه لیدی شي؛ دوه واوونه او د کلمې د پای زور، که دا درې واړه واول شي نو کلمه درې څپې پکار ده خو اوس دوې څپې ده.
درېیم «ي» واول دی، په دې شکل «ي» یا هم د بېشمېره کلمو سر کې لیدی شي، مثلاً «یور» کلمه کې دوه واوله وینو، «ي او و»، که دغوی واولونه وبولو نو کلمه دوې څپې پکار وه چې داسې نه ده؛ یوازې یوه څپه ده.

"د کلمې د سر «و او ي» ټول کانسونېنټ واوونه او ټولې یاګانې کانسونېنټ هغه دي، هېڅ داسې کلمه نه لرو چې هلته دې د کلمې د سر «و» او «ي» واول وي. د واو او یا مسله دغو کانسونېنټو واوونو او یاګانو حل کړې خو د کلمې د سر الف د مخالفتونو ډک بحثونه راپورته کوي. ځکه له بده مرغه د الف کورنۍ «الف، زور او زورکی» د واو او یا غوندې کانسونېنټ الف، زور او زورکی نه لري. چې نه یې لري نو د کلمو د سر الفونه دي څه؟ د واول تعریف کې یوه خبره دا ده چې د خولې تشه کې ادا کېږي، راځئ «اور او ایره» کلمې تلفظوو، د سر الفونه د خولې تشه کې ادا کېږي او که د غړېړو غړو له ډلې کوم یو د مخرج په توګه ټاکي. زما خپل باور دا دی چې دغه الفونه د «ه» هممخرجي دي او مخرج یې ستونی دی، چې مخرج یې پیدا شو نو ځان د واولونو له ډلې باسي او پر کانسونېنټ اوړي. عربي کې هم قاعده دا ده چې د کلمې د سر الف، الف نه دی، همزه ده او «ه» سره یې مخرج شریک دی: « په حلق کې درې مخرجونه دي ( اول د حلق، وسط یا مابین د حلق، اخر د حلق)... د حلق له اخري برخې څخه یعنې د سینې له طرفه «همزه» او «ها» ادا کېږي لکه (اء او اه) ."(7)

د پښتو کلمو د سر پر الفونه که هر څومره فکر کوو یا یې څېرو له همزې بل غږ نه شي کېدی، د واول د ځانګړنو خلاف «ه» سره شریک مشخص مخرج لري او څپه یې نه ده جوړه کړې.
د پښتو د کلمو د سر الفونه کټ مټ د عربي د انسان، اخبار، ایمان... د کلمو د سر الفونه دي او عربي کې د کلمې د سر الف همزه بولي، د همدغو کلمو د منځ الفونه بیا رېښتیني الفونه یا واول الفونه دي چې د خولې تشه کې ادا کېږي.

زموږ ستونزه دا ده چې ځینې پښتو پوهان همزه د عربي غږ بولي او پښتو کې یې منلو سره لږ حساسیت ښیي. خو څه چې شته حساسیت یې نفي کولی نه شي، پکار ده د خپل کار د ښه‌والي لپاره یې ومنو. عربي سره مو چې نور لسګونه غږونه او توري شریک دي نو همزه هم هېڅ ستونزه نه ده، غږ مو خپل دی خو لیک یې نورو ګرافیمونو (تورو) غوندې له عربي راپورو، که راپور یې هم نه کړو په الف یې هم ولیکو پروا نه کوي خو غږ منل زموږ ضرورت او مجبوریت دی. شکل خو یې مخکې نه د یوې نښې په توګه «ځ او ئ» کې راسره هم دی.

## حوالې

(1) هلالي، عبدالحکیم، د پښتو ژبې فونولوژي دویم چاپ، صداقت خپرندویه ټولنه، کندهار، ۱۳۹۸ ل. ل،مخ، ۷۴

(2) شاکري، حمدالله تحفة الاحسان تجوید القران، مستقبل خپرندویه ټولنه کابل، ۱۳۹۶ ل. ل،مخ، ۳۳

(3) زیار، مجاوراحمد، پښتو پښویه ځلورم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۶ ل. ل،مخ، ۶۸

(4) شاکري، حمد الله، تحفة الاحسان تجوید القران، مخ ۳۳

(5) زیار، مجاوراحمد، پښتو پښویه،مخ، ۶۸

(6) مرهون، محمود، دژبپوهنې بنسټونه دویم چاپ، کاینات څېړنیز او ژباړې مرکز او جهان دانش خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۵ ل. ل،مخ، ۵۶

(7).شاکري، حمداللهتحفة الاحسان تجوید القران، مستقبل خپرندویه ټولنه کابل، ۱۳۹۶ ل. ل،مخ، ۲۹